AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی ، استعمال کلمات و جملات درین نوشته بدوش نویسندهٔ مطلب میباشد

ناشر و نویسنده: آصف بهاند
تأریخ: ۲۰۱۴/۱۰/۲۴

# تاسو افغانان نه یاست!

د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر د میاشتي ډیرې ورځي مې د أکراین په پلازمینه کیف کي له لطیف لالا(ډاکتر صاحب لطیف بهاند) سره تیرې کړې. د کیف منې ښکلی و، خو دود غړن. دا لوګي د جګړې نه وو. سره له دې چي د جګړې تأثیرات د خلکو او ټولني په ژوند کي له ورایه لیدل کیدل، خو تر اوسه کیف ته د روسیې او اوکراین په پوله کي د بل کړای شوې جګړې اور او لوګي نه وو را رسیدلي. دا د وچو پاڼو لوګي وو. په کیف کي هم د دیمو کراسی تر پردې لاندې ښاروالی خپل کارونه سم نه تر سره کول. مقامات د کار پر ځای په پچه سپاره وو او د امریکا ــ اروپا خوبونه یې لیدل. له ونو راتویې وچې پاڼې د دې پر ځای چي له ښاره ویستل شي، همالته د ښار په منځ کي د ونو او لارو په څنګونو کي سو ځول کیدې او لوګو یې د کیف آسمان او هوا سره لړلي وو.
زما لالا د اکراین په کیف کي د افغانستان د سفارت مرستیال سفیر دی. زه به هره کاري ورځ کي له ده سره د کار ځای ته تلمه. په سفارت کي دوی د «ملکه ثریا کتابتون» په نامه یوه کتابخانه پرانستی وه او ښایسته ډیر کتابونه یې په کي راټول کړي وو. لالا به د کمپیوټر تنې شرقولي او زه به کرې ورځ د ده په دفتر کي مطالعي ته اړم وم.
د استاد خلیل الله خلیلي له خولي لیکل شوې یاد داشتونه راته په زړه پورې و، خو سل په سلو کي یې په نګه والي شک من شوم.
«افغانستان در آتش نفت» کتاب سره له دې چي په زړه پورې و، خو د یوې دلې د پلویتوب تله په کي درنه وه، خو بیا مې هم د دې له پاره خوښ شو چي د تحقیق په اصولو کي لیکوال راته تر ډیره بریالی ښکاره شو او...
له دې نه وروسته به مو په فارغ وخت کي د کیف تأریخي ځایونه، موزیمونه، دکانونه، بازارونه، میترو، بڼونه، پارکونه او نور په زړه پورې ځایونه لیدل.
د سیاسی، نظامي او انقلابي اړو دوړ په سلسله کي خلک خوار بیکاره، سر ګردانه، زیر زبنلي وو او د نامالومي راتلونکي په باب یې فکر کاوه. نرخونه ډیر جګ او د خلکو جیبونه تش وو.
د چکرونو په سلسله کي د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر په ۱۸ نیټه ماسپښین مهال یو پارک ته تلونکي وو، چي د لالا تلیفون غږ وکړ. که ګورم چي لالا ورته وویل: درغلو.
لالا ویل چي له ماسکو نه میرویس راغلی، غواړي چي ودې ګوري. ما ویل دا خو ښه وشول. میرویس زما یو پیژندګلو افغان دی چي همالته یې ماسکو کي درس ویلی و، ښه بلد و مور سره یې په ګاونډ کي ژوند کاوه او یو څه خوړې ترخې مو سره په ګډه تیرې کړې وې.
څو شیبې وروسته ګورم چي میرویس راغی، څوارلس کاله مو نه وو سره لیدلي. ښه بدل شوی وو، خو له خولي نه یې خندا ورکه نه وه .ستړي مه شې نه وروسته مو څو شیبې په هغه پارک کي چکر وواهه، بیا د ده د اوسیدو ځای ته وخوځیدو.
د لارې پر سر یوې اکراییني میرمني ترکاري او تازه میوه خرڅوله. میرویس ویل چي دلته به زه لږ ترکاري واخلم. زه او لالا هم ورسره ودریدو. ښځي کله چي رومیان په کڅوړه کي اچول، د سترګو له کونجو نه یې په غلا موږ ته کتل. ښکاریدل چي څه یې په زړه کي ګرځي. له یوه ستړي ستمهاري نه وروسته یې له میرویس نه وپوښتل:
ترکان یاستئ؟
میرویس په خندا ورته وویل:
نه موږ ترکان نه یو.
نو د کوم ځای یاستئ؟
میرویس ورته وویل:
موږ افغانان یو.
ښځي په نا راضي لهجه وویل:
افغانانو ته ورته نه یاستئ. او بیا یې له خندا په ډکه خوله د خپلې لومړنی جملي په تائید سره وویل:
هیڅ امکان نه لري چي تاسو دې افغانان و اوسئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

میرویس بیا ورته وویل چې موږ افغانان یو. ښځې بیا په ټینګار سره وویل چې تاسو افغانانو ته نه پاتې کیږئ.
موږ ورته وویل چې ته د کوم دلیل له مخې دا خبره کوې چې موږ افغانانو ته نه پاتې کیږو؟
سم د لاسه یې په ډیره حق په جانبه لهجه او ډاډ سره وویل:
ولې لنګوټې نه لرئ؟
افغان خو له لرې پیژندل کیږي چې یوه ښه اوږده ټوټه یې له سره تاو کړي وي او برند روان وي.
موږ یو بل ته سره وکتل، او ورنه روان شوو.
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ